# نه ځانته ضرر رسول شته او نه بل ته ضرر اړول

له ابو سعيد سعد بن مالک بن سنان الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله ﷺ وفرمایل: «نه ځانته ضرر رسول شته او نه بل ته ضرر اړول».
[حسن] [ابن ماجه، الدارقطني او نورو مسنداً روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې له ځان او نورو څخه د هر ډول ضرر او ضرري پديدې دفع كول واجب دي، نو د هېڅا لپاره جواز نه لري چې خپل ځان او يا نورو ته زيان ورسوي. او ورته روا ندي چې د ضرر په مقابل کې په ضرر لاس پورې کړي، ځکه چې يو ضرر په بل ضرر سره له منځه نه وړل کېږي مګر دا چې قصاص وي، هغه هم له تېري پرته.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66531

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee